

# هربان او ببنونكي خداى په سپېڅلي نامه؛

## ستاسو د الوتنې معلومات......

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د الوتني معلومات

- د ټکټ نوعه: یو اړخیز ټکټ
- د ټکټ بیه: بالکل مفت (تایید شوی ټکټ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مسافر په اړه معلومات:

- نوم: يو د آدم عليه السلام له اولادې څخه
- سرچينه يا اصل: له خاورې څخه جوړ
- پته: د ځمکې کره يا سياره

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سفر شرطونه او ځرنګوالي:

- روانېدنه : له ځمکني ژوند څخه
- موخه یا تلل: تل پاییدونکي یا ابدي ژوند ته
- پر لاره تم کېدل: هوټل یا مېلمستون (د ځمکې ۲ متره لاندې، د یو کس لپاره)
- د الوتنې موده: له څو ثانیو څخه تر څو میلیونو کلونو پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د روانیدني وخت:

- د مړيني وخت: دقيق وخت ندی معلوم (مګر کيدای شي له تمې څخه مخکې پيښ شي.)
- د رسېدني وخت: د قضاوت یا قيامت ورځ(په مهالويش کي معلومه شوی نده)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پوښتنو په اړه معلومات:

- میلمستون(قبر) ته د رسېدو په مهال: مصلح (رشوت نه اخیستونکي) حساب کوونکی – دوه ملایکي: منکر او نکیر، به ډېر زر پوښتنې پیل کړي.
- درې مهمې پوښتنې به وپوښتي:
  ۱. ستا څښتن څوک دی؟
- ۲- ستا پیغمبر څوک دی؟
- ۳- ستا دین یا مذهب څه دی؟
- پوښتنې به ستا د دنیوي ژوند په اړه دوام وکړي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره د قرآن کریم د ابراهیم سورت ۲۷ آیت وګورئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سامان یا پیټي:

۱- سره له دې چې په یو وخت کې په یو الوتنه کې یواځې یو کس الوتنه کوي، بیا هم د هغه پیټي د اندازې په اړه چې تاسو یې له ځان سره وړئ یو څه مخنیوی او محدودیتونه شته.

۲- له ځان سره یواځې ۵ متره سپین ټوکر یا رخت وړلای شئ.

۳- د دنیایي ژوند اړوند دهر راز سامان وړل په کلکه توګه منعه دي.

۴- واقعی سامان د ښو کړنو، د ښو او حیاناکو اخلاقو او هغه ښه وخت چې په دعوت یا د خلکو اسلام ته رابللو کې تېر شوي وي څخه عبارت دي، چې تاسو کولای شئ له ځان سره نوموړی سامان یوسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ضروري لاربنووني:

- **ټول مسافر باید پدي وپوهیږي چي د الوتني ټکټ نه بدلیدلي شي او نه ختمیدلي.**
- **دغه سفر  د هر ډول ملیتونو، مذهبونو او هر ډول عمرلرونکو خلکو لپاره اړین دي.**
- ځنډیدل د منلو وړ ندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سفر ريس يا مشر

د مرګ پرښتي به د مرګ د نيټي په اړه هيڅ داسي مصلحت ونکړي ترڅو د تللو نيټه او يا وخت تغير کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لا زیاتو معلوماتو لپاره:

- لاربښووني ولولئ. هغه لاربښووني چي تاسو کولای شئ په قرآن ، نبوي ارشاداتو او یا هم د یو دیني عالم څخه ترلاسه کړئ، مهرباني وکړئ دا کار زر تر زره وکړئ.
- په یاد ولرئ د سفر په دوران کې تاسو ته د اکسیجن کڅوړه نه درکول کیږي ترڅو خپله ساه پرې وساتئ او دا ځکه چې له الوتنې دمخه به مو ساه واخیستل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اضافي لاربنووني:

۱- تاسو اړ نه یاست چې د سفر ضروري سامان لکه پاسپورټ، ټکټ او یا نور څه ولرئ.

چه د یو آرامه الوتنې لرونکي اوسئ نو:

۲- د ورځې پنځه وخته لمونځ کوه

۳- د قرآن تلاوت کوه

۴- تر زیاتي اندازې او قدرت د سنتو پیروي کوه او د خپلي الوتنې لپاره اماده اوسه، ځکه چې ستا الوتنه په هره دقیقه او وخت کي شونې ده (کیدای شي همدا لحظه هم).

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اخريني خبرداری

- اخري موخه يا هدف په تا پورې اړه لري! نو مهرباني وکړه او خپل ارزښتناک وخت په دې نړۍ کې بې ځايه مه تېروه.

- په ياد ولره، چې ته يوائې يو اړخيز ټکټ لرې يا جنت ته او يا هم دوزخ ته!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# آیا تاسو چمتو یاست؟

او که چمتو نه یاست، نو آیا په دې اړه د کوم مثبت تغیر فکر لرئ؟

له دې لامله د قرآن کریم او نبوي ارشاداتو لوستل او عملي کول په پوره توجه سره شروع کړئ او نوموړي تعقیب کړئ تر څو جنت ته ورسیږئ.

ان شاءالله، د الله په مهربانئ به، مونږ ټول د جنت په باغونو کې سره وینو.

پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلي: له ما څخه و نورو ته علم ورسوئ اګر که د یو آیت په اندازه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**